# د افغاني ګوندونو مشرانو او نورو شخصيتونو ته

# د باچاخان اپيل



د ډېرې مودې نه مې دا خواهش ؤ چې د خپلو افغانانو ورونو مشرانو ته اپيل وکړم چې راغونډ شئ سره کښېنو او د افغانستان په حالاتو غور او فکر وکړو چې په داسې حالاتو کښې مونږ له څه کول پکار دي؟ او د دې مصيبت نه د خلاصون دپاره د يو بل سره مشوره او مرسته وکړو. ګوندې پاک خدائے رابانـدې ورحمېږي او بې د وينو توئيدو د دې بلا څخه نجات ومومو. خو کله به مې صحت ښه نۀ ؤ کله به بل څه خنډ راپېښ شو اوس يو څۀ موقعه په لاس راغلې ده نو ځکه د افغانستان د ټولو هغو ګوندونو له مشرانو او نورو افغاني شخصيتونو څخه چې په جلاوطنۍ کښې په مبارزه اخته دي خواهش کوم چې ماته موقعه راکړي چې د دوي سره وګورم سلا او مشوره ورسره وکړم کۀ دوي تشريف راوړي زۀ په چارسده کښې د خپل زوي خان عبدالولي خان په ځائې کښې وسېږم او کۀ غواړي چې زۀ ورشم نو ماته دې خبر راکړي وخت او ځائې دې وټاکي زۀ سره د دې چې ناروغه يم چرته چې مې دوي وغواړي ور به شم.

ما په دې خبره ډېر غور او فکر کړے دے چې د دې مسئلې د حل لپاره جنګ يوائېنۍ لار نۀ ده کۀ مونږ خپل مقصد او منزل ته بې د جنګه رسېدے شو نو بيا خپل ملک په جنګ او جګړو ولې وران کړو خپل ځوانان او خپل بچي ولې مړۀ کړو او خپلې وينې ولې په خپلو لاسونو توئې کړو.

يو هوښيار او بېدار او سنجيده قام ته چې څه مشکل پېښ شي مشران ئې راټول شي سره کښېني په ښه نيت او پراخه سينه په خپلو کښې مشوره وکړي او د حل داسې لارې چارې ولټوي چې په هغې کښې ضائعات او تلفات لږ ګڼه او پېش رفت پکښې ډېر او آساني وي کۀ ختيځ او لويديځ زمونږ د مېړانې ستائنه کوي او قهرمانات راته وائي مونږ له نۀ دي پکار چې د خپل نسل د بقا نه غافل شو او خدائے مۀ کړه د قران عظيم الشان د دې مبارک آيات مصداق ونۀ ګرځو.

,, اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْ نِعْمَةَ اللهِ كُفْرً اَوَ اَحَلُوْقَوْمَهُمْ دَارَالْبَوَارِ،، (۲۸ آيت ۱۴ سورت)

ترجمه: ايا نۀ دې دي ليدلي په عاقبت د هغو کسانو چې بدل ئې کړو نعمت د خدائے په ناشکرۍ او راښکته ئې کړو قوم خپل په سرائے د هلاکت.